مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخِر ۲۰۲۰/۰۸۹/۰۵

# سوله، د سولې ډولونه او سوله په ادیانو کې

## (دویمه برخه)

### سوله په اسلام کې:

﴿وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾ ژباړه:«سوله لوی خیر دی» دا د قرآن کریم د نساء سورت ۱۲۸ آیت یوه برخه ده چې د ټولو انسانانو لپاره لوی خیر بللی شوي دی. د نړۍ په آسماني کتابونو او د نړۍ په نورو ادیانو کې د سولې په پلي کولو باندي ټينګار شوی دی، د اسلام په تاريخ کې د مخالفينو سره د سولې ډېر تړونونه ترسره شوي دي، په قرآن کريم او د پيغمبر (ع) په احاديثو کې سوله په بېلابېلو ډولونو او بنو ياده شوي ده، د اسلام سپيڅلی دين په حقيقت کې د سولې دين دی، له ټولو نړيوالو سره په سوله او دوستی کې ژوند کول غواړي، تر څو اړ نه شي جګړې ته اجازه نه ورکول کيږي، په اسلامي شريعت کې د انسان وژل خورا لوی جرم بلل کيږي، هېڅ ځوک نه شي کولی يو بې ګناه انسان ووژني، لوی ځښتن د يو بې ګناه انسان وژل (هغه چې په هر دين او آيين پورې تړاو ولري) دومره لوی ګناه او لوی ظلم بللی دی لکه د ټولې نړۍ انسانان (مسلمانان، يهوديان، عيسويان... ښځې، ماشومان، سپينږيري ...) يې چې وژلي وي.

﴿أَنَّهُ مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا﴾

ژباړه: «چا چې يو انسان د وينې له بدلې، يا په ځمکه کې له فساد خورولو پرته، په کوم بل علت ووژاه، داسي وګڼه، لکه، هغه چې ټول انسانان ووژل او چا چې ځوک له مرګ څخه وژغوره، داسي وګڼه لکه هغه چې، ټولو انسانانو ته، ژوند وربخښلی وي.» (د مايدې سورت: ۳۲ آيت)

پوهيږو چې انسانان په لويه کې ټول سره ورونه او د آدم (ع) زامن دي.(د نساء سورت: ۱ آيت) دا چې هر ځوک چې په هر رنګ او هر دين پورې اړه ولري او يو بل ته يې ضرر نه وي رسيدلی، له هغوی سره په سوله کې ژوند کول په کار دی، موږ نه شو کولی له ټولو نامسلمو سره بې موجبه دښمني وکړو، که موږ دښمني وکړو دوی هم دښمنی ته اړ کوو او دا ډول دښمني د دواړو خواوو په تباهی تماميږي. الله (ج) مسلمانان له هغو کفارو سره له دوستی او نېکی کولو نه منع کوي چې مسلمانانو ته يې ضرر نه وي رسيدلی په دې اړه قرآن مجيد فرمايي:

﴿لَّا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾

ژباړه: «هغه کسان چې له تاسو سره د دين په لاره کې نه وي جګړيدلي او نه يې له خپلو کورونو څخه ايستلي وی، الله له هغوی سره تاسي نه منع کوي له (دوستی)، نيکي، عدل او نصاف څخه، الله خوښوي انصاف کوونکي.»(الممتحنة: ۸)

او هغه کسان چې له مسلمانانو سره يې دښمني هم کړي وي د دوستانه اړيکو اميد شته او الله (ج) وايي چې که تاسي بدي په نېکی ځواب کړه نو ستاسو د سر دښمنان به ستاسو دوستان جوړ شي په دې آياتونو کې دا ډول هيله ځرګنده شوي ده فرمايي:

﴿عَسَى اللَّهُ أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً ۚ وَاللَّهُ قَدِيرٌ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾

ژباړه:«هيله ده چې الله پيدا کړي دوستي په منځ ستاسي کې او په منځ د هغو کافرانو چې دښمني لرئ تاسي له هغوی سره او الله بنه قادر، بنه بښونکی او ډېر رحم والا دی.» (الممتحنة:۷)

﴿وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ۚ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ﴾



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

ژباړه:«نیکي او بدي یو شان نه دي. بدي په نیکی دفع کړه، ناڅاپه (به وګورې) هغه چي ستاسو په منځ کي دښمني وه هغه به دي صمیمي دوست شي.» (فصلت: ۳۴)

**سوله له اهل کتابو سره:**

اهل کتاب یهودان او عیسویانو دي، د یهودانو کتاب تورات او د عیسویانو کتاب انجیل (څلور انجیلونه) دي دواړه ډلي اسلام نه مني او اسلام د دواړو ډلو کتابونه او پیغمبران مني، مسلمانان د اهل کتاب خواړه حلال ګني او هم د اهل کتاب له ښځو سره نکاح کولی شي:(د مائدې سورت: ۵ آیت) خو له مشرکینو سره یې نکاح حرامه ده. نو کله چي مسلمانان د اهل کتاب له ښځو سره نکاح وکړي طبعي ده چي د هغي ښځي تول خپلوان د هغي د میړه چي مسلمان دی دوستان ګرځي، دا ډول د دوستی رېښی د مسلمانانو او اهل کتابو تر منځ په خپله د سولي بنسټ تشکیلوي او په سوله کی د ژوند زمینه رامنځ ته کوي.
اسلام یوازې د مسلمانانو لپاره نه دی بلکي قرآن حکیم د آسماني ادیانو تول پیغمبران مسلمانان بللي دي چي بې له شکه مسلمانان وو د مسلمان تول اوصاف په دوی کي موجود وو نو څوک دي په دې حیران نه شي چي دا څرنګ کیدای شي د یهودانو او عیسویانو پیغمبران دې مسلمانان وي په دې اړه ډېر آیاتونه راغلي دي چي له هغو څخه د عمران سورت دا آیت وړاندې کوو:
﴿مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾
ژباړه:«ابراهیم نه یهودي ؤ نه نصرانی، بلکي موحد او مسلمان ؤ او هیڅ کله له مشرکینو څخه نه ؤ.» (عمران: ۶۷)
د اهل کتابونو او مسلمانانو تر منځ ګډه کلمه د لوی څښتن سپیڅلی نوم الله (ج) دی چي یهودان یې (یهُوَهْ) بولي او عیسویان یې (پلار، زوی، سپیڅلی روح) بولي چي عیسَی د دغه تثلیث تجلي او نښه ګني، خو په حقیقت کی هماغه یو خدای دی نه درې.
دا یو او واحد خدای د درې واړو دینونو تر منځ د سولي محور دی خو په هغه صورت کي چي اهل کتاب د لاندې آیت پر ښوونو عمل وکړي:
﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ﴾
ژباړه: ووایه:«ای اهل کتابو! راځئ تاسي د یوې کلمي (خبرې) پر لوري چي برابره ده زموږ او ستاسي په منځ کي چي عبادت به نه کوو مګر د یوه خدای او شریک به نه نیسو په الله پورې هیڅ شی او نه به نیسی ځیني زموږ ځیني نور خدایان غیر له الله، نو که سرکښي یې وکړه (له دغه دعوت) ووایې: ګواه اوسی چي موږ مسلمانان یو.» (آلعمران: ۶۴)
له بل پلوه مسلمانان له هغو اهل کتاب سره سوله نه کوي چي د مسلمانانو ځمکه یې لاندې کړي وي او له هغو یرغلګرو سره تر هغي پورې جګړېږي تر څو په زور یې اړ کړي چي د دوی ځمکي پرېږدي چي ښه بېلګه یې د فلسطینیانو د ځمکو نیول د اسرایلو لخوا دي.
﴿فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ﴾
ژباړه:« هیڅ کله سست او بې زړه نه شئ او(دښمنانو ته د بې پته) سولي ورانديز مه کوئ. په داسي حال کي چي تاسي برلاسي یې، الله ستاسي ملګری دی او هغه به ستاسي عملونه ضایع نه کړي.» (محمد: ۳۵)

**سوله له مشرکینو سره: (د حدیبي سوله)**

وړاندې له هغي چي له اهل کتابو سره پیغمبر (ع) سوله وکړي د مکي له مشرکینو سره یې د حدیبي مشهوره سوله وکړه دا د اسلام په تاریخ کي د مسلمانانو او د مکي مشرکینو ترمنځ یوه عجیبه سوله وه چي ظاهراً ذلیله او بې عزته ښکاره کیده خو په حقیقت کي سرلوړي او بریالۍ سوله وه.
د هجرت په شپږم کال، هغه مهال چي پیغمبر (ع) له مديني منورې څخه مکي ته د عمرې د حج په موخه له خپلو (۱۵۰۰) اصحابو سره روان ؤ نو د مکي مشرکینو چي د مسلمانانو دښمنان وو د دوی د ورتګ مخالفت وکړ... په پای کي محمد (ص) د حدیبي په سیمه کي د مکي له مشرکینو سره د سولي داسي تړون وکړ چي مسلمانان به اوس، سږکال مکي ته د حج لپاره نه ځي، یو کال وروسته به په داسي حال کي حج کوي چي بې وسلي به وي او تر لسو کالو پورې به د دوی ترمنځ جګړه نه کیږي.
د سولي په دې ډول تړون چي ظاهراً سپک او ذلیل ښکاریده اصحاب کرام په ځانګړي توګه حضرت عمر فاروق ډېر خواشیني وو خو کله چي مسلمانان مديني ته وګرځېدل په لاره کي پر پیغمبر (ع) باندې د (فتح) سورت نازل شو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾
ژباړه:« موږ تا ته روښانه او ښکاره برى درکړ.» (فتح: ۱ آيت)
پيغمبر (ع) د سولي دا تړون لوى برى وباله. د حديبي د سولي په تړون كي نه يوازې د جګړي مخه ونيول شوه، بلكي په مكه كي مېشت مسلمانان هم له وژلو او ترټلو وساتل شول. (فتح:۵ آيت) وايي چي په دي سوله كي د مكي له مشركينو سره د مسلمانانو راشه درشه پيل شوه، د مسلمانانو كړه وړه يې وليدل او اسلامي كړني يې خوښي شوې چي ډېرو مشركينو اسلام ومانه.

## د حديبي د سولي لاس ته راوړني:

لوى ښتن د حديبي د سولي ثمره د فتح په سورت كي څرګنده كړه دښمنانو ته مجازات او مؤمنانو ته د نورو مكافاتو تر څنګ د ډېرو ښېګڼو زېرې وركړ، د فتح سورت چي مانا يې (سوبه او برى دى) ۲۹ آياتونه لري په دې ۲۹ آياتونو كي مسلمانانو ته دا ډول زيري وركړل شوي دي:«ښكاره او روښانه برى:﴿فَتْحًا مُّبِينًا﴾. نه ماتيدونكي برى:﴿نَصْرًا عَزِيزًا﴾. نږدې برى:﴿فَتْحًا قَرِيبًا﴾. د غنيمتونو ترلاسه كول:﴿وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً﴾. د مؤمنانو د زړه ډاډينه:﴿السَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ﴾. د ايمان زياتيدل:﴿ لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا﴾. د سمي لاري هدايت:﴿وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا﴾ د الله تعالى رضا او خوښي:﴿لَّقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ﴾. د مكي فتح: ﴿بِبَطْنِ مَكَّةَ مِن بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ﴾. د مؤمنانو د ګناهونو بښل:﴿وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ﴾ او نور... .
لكه وراندې چي وويل شول د نرى په ټولو اديانو كي تېرى كوونكي جګړه ښه نه ده بلل شوي او سوله يې ښه بللې ده، د اسلام سپيڅلي دين بنسټ پر سوله ولاړ دى او عادلانه جګړه په اسلام كي يوازې له حق څخه دفاع او د تيري پر وړاندې عمل دى. په قرآن كريم او د پيغمبر (ع) په احاديثو كي تر هغې پورې جګړه كول جواز نه لري چي اړ شوى نه وى، الله تعالى انسانان سولي او اسلام ته رابولي (چي د اسلام يو مانا سوله او سلامتي ده) او د نورو اديانو له پيروانو سره د جګړي نه كولو او د سولي په اړه خپلو بنده ګانو ته داسي فرمايي:
﴿وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَىٰ دَارِ السَّلَامِ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾
«الله د سولي او سلامت كور ته بلنه دركوي، چا ته يې چي خوښه شي سمه لار ورښيي.» (يونس: ۲۵)

﴿وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾
ژباړه:[اى پيغمبره!]«كه دښمن د سولي خوا ته ميلان وكړي نو ته هم د هغي لپاره تيار اوسه او پر الله توكل وكړه. چي هغه اوريدونكى او پوهيدونكى دى.» (انفال: ۶۱)
﴿إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا﴾
ژباړه:«هغوى چي ستاسو له تړون كوونكو سره تړون كړى وي، يا هغوى چي ستاسو لوري ته راځي او له تاسو يا له خپل قوم سره د جګړي وس نه لري، كه خداى وغواړي هغوى به پر تاسو مسلط كړي چي له تاسو سره وجګړيږي، نو كه ستاسو څخه په څنګ شي او جګړه ونه كړي او د سولي وړانديز وكړي، خداى تاسو ته پر هغوى د تيري اجازه نه دركوي.» (نساء: ۹۰)
نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ